مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخر ۲۰۲۰/۱۰/۰۲

# سوله، د سولې دولونه او سوله په ادیانو کې

## (نهمه او وروستۍ برخه)

سوله په یهودیت کې (۳)

له ګاونډیو او نړیوالو سره سوله

وړاندې مو ولوستل چې یهودان په دې ګروهه دي چې انسانان یوازې د یهودو قوم دی، له دې امله ده چې په خپل تاریخ کې د خپلو ګاونډیو له خوا په سختۍ سره ځپل شوي دي، خو ځله یې معبد (بیت المقدس) وران شوی دی چې اوس یې یوازې یو دیوال پاتې دی، کله هغه دیوال ته اسراییلیان ورځي نو ورته ژاړي او له دې کبله ده چې (د ژړا دیوال) یې بولي او په پای کې له فلسطین څخه شړل شوي، په تولهٔ نړۍ کې خواره واره پراته دي، دوی په هغو هېوادونو کې چې په کې مېشت شوي وو، هلته هم د خپلې ګروهې او کړنو له امله په آرام نه دي پرېښودل شوي چې یوه بېلګه یې په جرمني کې د هټلر د نازي ګوند لخوا (د اسراییلو د دعوې پر بنسټ) شپږ میلیونه یهودان وژل شوي دي.

هغه مهال چې اسراییل څواکمن وو له چا سره یې سوله نه ده کړې او نه یې سوله پېژندله، په ځانګړې توګه د فلسطین څمکې له اوسیدونکو سره چې دوی یې د خپل خدای یهوه له خوا ډالۍ شوي ځمکه بولي. ښه به وي چې وړاندې له هغې چې د اسراییلو او ګاونډیو ترمنځ او د نړیوالې سولې په هکله مالومات وړاندې کړو د اسراییلو پر ځو بې رحمو جګړو لږه رڼا واچول شي چې له یو شمېر ځایي قومونو سره یې کړې دي:

کله چې اسراییل له مصره وتښتېدل تر څلوېښتو کالو پورې د سینا په دښته کې لالهانده ګرځېدل، دوی ځایي ګاونډیان نه درلودل، خو بیا هم له ځینو قومونو سره جګړې وکړې چې له هغو څخه یو هم د (مدین) قوم ؤ (چې په قرآن کریم یې هم یادونه شوې ده) د موسی مېرمن د مدین له قومه وه او موسی ډېر کلونو هلته اوسېدلی ؤ، موسی په دې دلیل چې د مدین خلکو اسراییل بُت پرستۍ ته هڅولي دي، د اسراییلو د ځانګړي خدای یهوه اسراییلو ته داسې امر کوي:«وسله وال شئ تر څو له مدینیانو څخه د خدای یهوه غچ واخلئ... د مدینیانو ټول سړي په جګړه کې ووژل شول، د مدین پنځه پاچاهان هر یو اَوی، صور، حور او رابع د وژل شویو په منځ کې وو. بلعام د بعور زوی هم ووژل شو. په هغه وخت کې د اسراییلو سرتېرو ټولې ښځې او ماشومان اسیر ونیول، رمې، ګلې او کالي یې لوټ کړل او بیا یې د مدین ټول ښارونه، کلي او کلاګاني وسوزول... خو موسَی د سرتېرو پر قوماندانانو باندې په قهر شو، له هغو څخه یې وپوښتل:«ولې مو ښځې ژوندۍ پرېښودلې دي؟... ټول ماشومان او میروښې ښځې ووژنئ. یوازې پېغلې جلکۍ د ځانونو له پاره ژوندۍ پرېږدئ.» (اعداد:۳۱ باب، ۳،تر ۱۸)

دغه شان له اسراییلو سره چې د دوی ځانګړي خدای یهوه ژمنه کړې وه چې د اریحا (فلسطین) ځمکه به دوی ته ورکوي او د دوی خدای یهوه داسې ظالمانه او بې رحمه امر کړی ؤ چې د نیولو پر مهال به د هغه ځای ټول اوسیدونکي، هر ځیز له منځه وړي، وایي:«هغه ښارونه چې د موعودې ځمکې په دننه کې (پراته) دي هېڅوک باید ژوندي پرې نږدئ. هر ژوندی موجود له منځه یوسئ. حیتیان، اموریان، کنعانیان، فرزیان، حویان او یبوسیان ټول (قومونه) له منځه یوسئ. دا حکم ستاسو خدای یهوه درکړی دی.» (تثنیه: ۲۰ باب، ۱۶- ۱۸)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دا ډول د اسراییلو یو بل مشر یوشع چې وروسته د موسی ځای ناستی شو د اریحا ښار د نیولو پر مهال خپلو کسانو ته وویل چې کله ښار لاندې کړي نو ټول خلک له منځه یوسئ ترڅو چې هېڅ ساه کښ ژوندی پاتې نه شي په دې اړه وایي:«په لوړ آواز سره ناري کړئ ځکه چې خدای یهوه موږ ته ښار راتسلیم کړی دی، دغه ښار او هر څه چې په کې دي، حرام دي نو دغه ښار په بشپړه توګه له منځه یوسئ، یوازې راحاب(نومې) فاحشه او هغه کسان چې د هغې په کور کې یې پناه اخیستې ده ژوندي پرېږدئ، ځکه چې هغې زموږ جاسوسان ساتلي وو، متوجه اوسئ چې کوم څیز په غنیمت وانخلئ ځکه چې هر څه حرام دي... خو سره او سپین زر، مسي لوښي او اوسپنه د یهوه خدای دي او د ده خزانې ته دې راوړل شي... هر څه چې په ښار کې وو له منځه یې یوړل ښځې، سړي، ځوانان او بوډاګان، غواګانې، مېږې او خرونه یې له توري تېر کړل.» (یوشع: ۶ باب، ۱۶تر ۲۱)

سره له دې چې د اسراییلو مشران ټول په جګړو کې ښکېل وو خو سلیمان چې د داؤد زوی ؤ او ده نوم د سولې مانا لري د هغه په پاچاهۍ کې هر اړخیزه سوله او امنیت ټینګ وو، وجه دا وه چې سلیمان د اسراییلو د تېرو مشرانو په شان ځان غوښتونکی او تیری کوونکی پاچا نه ؤ، وایي چې داؤد ته زیری ورکول کېږي چې:«... هغه (خدای) وویل: تا ته به داسې زوی درکړم چې سوله غوښتونکی وي، ... د هغه نوم به سلیمان یاني سوله [ایز] وي، د ده د سلطنت په موده کې به د اسراییلو قوم ته سوله او آرامي ورکړل شي.» (اول تواریخ آیام ۲۲)
د سلیمان له ډېریو ځرګندونو څخه ښکاري چې نوموړی سوله غوښتونکی او له ګاونډیو هېوادونو سره یې د ښو اړیکو ساتلو هڅې کړي دي چې د ده درېځ له دغو ځرګندونو څخه په روښانه توګه ښکاري:«له اوو څیزونو څخه خدای کرکه کوي: متکبرانه کتل. دروغ ویل. هغه لاسونه چې د بې ګناه کس وینې تویه وي. هغه فکر چې ناوړه نقشې جوړوي. هغه پښې چې د بدی له پاره حرکت کوي. درواغجن شاهد او هغه کس چې د دوستانو تر منځ کرکه اچوي.» (امثال: ۶ باب، ۱۹)

سلیمان پاچا د یهودانو له نورو مشرانو سره توپیر درلود په دې چې له خپلو ګاونډیانو سره یې ښې اړیکې ټینګې کړې وې او له خپلو ګاونډیو، په ځانګړي توګه د مصر د فرعون له لور سره یې واده وکړ او له نورو سره یې هم ودونه کړي وو تر دې چې اسراییلو په ده باندې د کفر تورونه ولګول (د اسراییلو دا ډول تورونه قرآن حکیم ردوي) که سلیمان هر څه وي، وي به خو د ده په پاچاهۍ د امن او سوکالۍ زرینه دوره وه او تر مرګ او زړښته پورې په سوله او امن کې اوسېدلی دی، د سلیمان پاچا په هکله د اسراییلو خدای یهوه ډېر عجیب قضاوت کوي، داسې مالومېږي چې یهوه خدای سلیمان ته د ده د سوله ییز درېځ له امله سزا نه شي ورکولی، یهوه چې کله خپل قوم یهودو ته سزا ورکوي نو د بهرنیو پاچاهانو په لاس یې څپي، یهوه وایي د بهرنیو پاچاهانو ځواکونه زما په لاس کې وسله ده، یهوه سلیمان ته د هغه د ګناهونو سزا تر پایه په دې نړۍ کې ورنه کړی شوه. (*)، یوازې دا یې وویل چې د ده زوی ته به سزا ورکوي، چې د اسراییلو پاچاهي به په دوو برخو ووېشي یوه برخه او د یوې اسراییلي قبیلې پاچا به د سلیمان زوی وي او بله برخه او د لسو قبیلو پاچاهي به د یربعام نومې کس وي. (د پاچاهانو لومړی کتاب: ۱۱باب، ۱۰ تر ۱۳ پورې او ۳۵- ۳۶ آیتونه)
د سلیمان د ګروهې او کړنو په اړه د اسراییلو د پاچاهانو په لومړي کتاب کې راغلي دي چې:«سلیمان پاچا د فرعون له لور پرته په نورو ښځو پورې هم زړه وتاړه، هغه د خدای د امر پر خلاف د بت پرستو قومونو له سیمو لکه: موآب، عمون، ادوم، صیدون او حیت څخه ښځې واده کړې. خدای خپل قوم په ټینګه سره منع کړی ؤ چې له دغو بت پرستو قومونو سره به هېڅ کله نه نږدې کېږئ، هسې نه چې د اسراییلو قوم د بت پرستۍ پر لور ونه هڅوي، سلیمان اووه سوه ښځې او درې سوه مینځې درلودلې، دغو ښځو ورو په ورو سلیمان له خدایه لرې کړ، کله چې سپینږی شو، د دې پر ځای چې د پلار داؤد په شان د زړه له کومې د خدای پر لار ولاړ شي، د بتانو په لمانځنه یې پیل وکړ. سلیمان عشتاروت، د صیدنیانو الهه او د عمونیانو کرکجن بت عبادت کولو، هغه د خدای پر وړاندې ګناه وکړ او د پلار داؤد په شان یې په کامله توګه له خدایه اطاعت ونه کړ. تر دې چې د هغه غره پر سر چې د اورشلیم په ختیځ کې پروت دی، د موآب کرکجن بت آموش او د عمون کرکجن بت مؤلک، دوه بُتونونه جوړل کړل.» (اول پادشاهان: ۱۱باب، ۱ تر ۷ پورې)
د سلیمان له مرګه وروسته د یهودانو ترمنځ د اختلافاتو له کبله د اسراییلو حکومت په دوو برخو (شمالي او جنوبي) حکومتونو باندې ووېشل شول، شمالي حکومت د (اسراییل په نوم رامنځ ته شو چې پلازمینه یې سامره وه او جنوبي حکومت چې یهودا نومیده، پلازمینه یې اورشلیم ؤ.

د اسراییلو اشعیا نبي د قومونو تر منځ د تل پاتې سولې په اړه وړاندوینه کوي وایي:«خدای به د توکمونو تر منځ جګړو ته خاتمه ورکړي او هغوی به له خپلو تورو څخه د یوي سپارې (قُلبه) او خپلې نېزې به په آرو بدلې کړي، د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نړۍ قومونه به نور د یو بل سره د جګړې په فکر کې نه وي. ای د یعقوب نسله! راشئ د خدای په نور کې په لاره ولاړ شو.» (اشعیا: ۲ فصل: ۵-۴)
د اسراییلو له نبیانو څخه یو هم میکا نبي ؤ چې د نړیوالی سولې په اړه یې، وړاندې له میلاد څخه په کال ۷۲۲ کې د اشعیا نبي په شان دا ډول وړاندوینه کړي وه:«خدای به د قومونو تر منځ قضاوت وکړي، د ځمکې پر سر به د لرې لویو ځواکونو ترمنځ اختلافات پای ته ورسوي، هغوی به خپلې تورې او نیزې ماتې کړي له هغوی به د یوې سپارې (قُلبه) او اړې جوړې کړي، نور به دولتونه نه سره نښلي او د جګړو له پاره به چمتوالی نه کوی، هر څوک به په خپل کور کې په سوله او امنیت کې ژوند وکړي هغه څه چې د وېرې سبب کیږي نه به وي، دا د قادر او متعال خدای ژمنه ده.» (میکا: ۴ باب، ۴-۳)

د اشعیا نبي په وړاندوینو کې د یو ډول خیالي او ناشوني نړیوالي سولې په اړه هم یادونه شوي ده داسې چې (مرګ به د تل له پاره له منځه ولاړ شي، مېږه او لیوه به یو ځای سره اوسیږي) ښکاري چې دا ډول وړاندوینې د اسراییلو د تسلې په موخه ویل شوي وې چې هغه مهال اسراییل په یو کمزوري حالت کې وو او یا د اسارت لاندې وي.
«... هغه مهال به لیوه او وری څنګ په څنګ اوسیږي، پړانګ او سیرلی (وزګوری) به یو ځای ویده کیږي، خوسی به له زمري سره یو ځای په لار ځي او یو ماشوم چې هرې خوا وغواړي، هغې خوا ته به یې وشړي، غوا به د خرس تر څنګ وڅري، د خرس بچي به د خوسي سره ویده شي او زمری به دې غوا په شان واښه خوري، شیدې رودونکی ماشوم به د مارانو په منځ کې بې له خطره لوبې وکړي، هغه ماشوم چې له شیدو جدا شوی وي، د افعي مارانو ځالې ته به لاس د ننه کړي او زیان به نه ورته رسیږي... .» (اشعیا:۱۱ باب، ۸-۷-۶)
د خدای میلمستیا:«قادر او متعال خدای به د اورشلیم د صهیون پر غره د نړۍ ټولو قومونو ته میلمستیا وکړي، پر رنګین دسترخوان به هر ډول خوندور خواړه او زاړه شراب کیږدي، په هغه ځای کې به هغه توره وریځ چې په ټوله نړۍ یې سیوري کړي ده یوې خوا ته کړي او مرګ به د تل له پاره له منځه یوسي، خدای به له سترګو اوښکې پاکې کړي او د خپل قوم ننګ به د ځمکې له مخ پاک کړي، دا خدای ویلي دي.» (اشعیا: ۲۵ باب، ۸-۷-۶)

---

(*) د یهودانو د شریعیت په پنځو کتابونو: پیدایښت، هجرت، لاویان، شمېر او تثنیه چې د یهودانو د باور وړ کتابونه دي، د جنت او دوزخ هېڅ ډول یادونه، نه ده شوي، یهودانو ته مجازات او مکافات د یهوه خدای له خوا په دې نړۍ کې ورکول کیږي، په یادو کتابونو کې بله نړۍ د مړو له پاره یوه توره تیاره او په خوب ویده ځای دی، وروسته له هغې چې یهودان د مجوسیانو (زردشتیانو) له ګروهه خبر شول د دوی انبیاوو په څرګندونو کې په لنډه توګه د تل پاتې روح، جهنم او نورو په اړه یادونې راغلي دي.
پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ